# ايا زه تاسو ته د جنتيانو په اړه خبر در نه کړم؟ هر ضعيف انسان چې عاجزي کوي، نو که په الله قسم وخوري، الله به يې قسم پر ځای کړي، او آيا د جهنميانو په اړه خبر در نه کړم: هر يو جګړه مار، کبرجن او لويې کوونکی انسان

له حارثة بن وهب الخزاعي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: «ايا زه تاسو ته د جنتيانو په اړه خبر در نه کړم؟ هر ضعيف انسان چې عاجزي کوي، نو که په الله قسم وخوري، الله به يې قسم پر ځای کړي، او آيا د جهنميانو په اړه خبر در نه کړم: هر يو جګړه مار، کبرجن او لويې کوونکی انسان».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د جنتيانو او دوزخيانو د ځينو ځانګړتياوو په اړه فرمايي. د جنت اکثره خلک به: "هر ضعيف او عاجزه انسان وي" يعنی: هغه چې الله تعالی ته خاکساري او عاجزي کوي، خپل ځان يې د هغه په وړاندې ذليله کړی وي، تر دې چې ځينې خلک يې کمزوری او سپک ګڼي، په داسې حال کې که چېرته همدا د الله تعالی په وړاندې عاجزه انسان په الله تعالی د هغه د سخاوتمندۍ په تمه قسم ياد کړي، نو الله تعالی به يې قسم محقق او هغه غوښتنه به يې پوره کړي چې ده پرې قسم ياد کړی او دعا به يې قبوله کړي. او ډېری د اور خاوندان هغه انسانان دي چې زيږ او سخت جګړه مار وي، او يا هر هغه بد فعله انسان چې هېڅ خبر ته غاړه نه ږدي، هغه کبرجن، زيات خوراکي، د غټ جسم خاوند چې د تګ پر مهال په کبر او غرور سره ګرځي، بد خويه، او حق نه منونکی وي، او تل نورو ته په سپکه ګوري.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3573

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee